**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د اقتصاد وزارت**

**مالي او اداري معینیت**

**د غیرامارتي مؤسسو د انسجام ریاست**

د صدور نېټه: ۱۴۰۲/۱۰/۹ هـ ش | ۱۴۴۵/٦/۱۷ هـ ق　　　د صادرې ګڼه: ۱۷

**ټولو محترمو کورنیو غیرامارتي او بهرنیو مؤسسو ته!**

**موضوع: د کورنیو غیرامارتي او بهرنیو مؤسسو له خوا د غیرمثمرو (عامه پوهاوي) پروژو د پروپوزل او وړاندیزونو نه جوړول او نه وړاندې کول**

لکه څرنګه چې لیدل کېږي یو شمېر محترم تمویلوونکي او کورنۍ او بهرنۍ مؤسسې د عامه پوهاوي، د سولې د ټینګښت، د عدالت غوښتنې، د ښځو د هواري او دې ته ورته پروژو په پلې کولو کې علاقمندي لري او د یادو پروژو او موضوعګانو د پلي کولو لپاره خورا سترې بودجې لګوي.

څرنګه چې په هیواد کې بشپړه سوله تأمین ده او له بل لوري د اړونده محترمو ادارو، لکه د ارشاد، حج او اوقافو محترم وزارت (په منبرونو او جوماتونو کې د تبلیغ او عامه پوهاوي له لوري)، او د قومي متنفذینو له خوا په دوامداره توګه د اسلامي شریعت په رڼا کې د بېلا بېلو موضوعګانو په تړاو بشپړه عامه پوهاوی ترسره کېږي؛ له دې کبله د محترمو کورنیو او بهرنیو مؤسسو له خوا د موازي پروژو (لکه عامه پوهاوي، د ښځو د هواري، د عدالت غوښتنې او د سولې د ټینګښت پروژې) پلي کول بنسټیزه اړتیا او ضرورت نه ګڼل کېږي.

په دې منظور، له ټولو محترمو تمویلوونکو او کورنیو او بهرنیو مؤسسو څخه هیله کېږي چې له دې وروسته دې د پورته یادو پروژو لپاره د بودجې له ځانګړې کولو ډډه وکړي او د خلکو د لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې، چې پکې د بشرپالنې او زېربنایي پروژو پلې کول شامل دي، اړینه پاملرنه او همکاري وکړي.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکي ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**په دې توګه دا موضوع د ټولو کورنیو او بهرنیو مؤسسو د خبرتیا او اطمینان لپاره شریکه شوه او له دې وروسته د اقتصاد وزارت په آنلاین سیستم کې د داسې پروژو له ثبت او په بېلا بېلو کچو یې له پراوونو څخه له تېرولو څخه معذرت غواړي. د پورتنیو موضوعاتو په هکله د پروژې د پلې کولو د اقدام په صورت کې به مؤسسه د ارزونې عالي کمېسون ته د انحلال لپاره سوق کړل شي.**

**په درناوي**

**الحاج قاري دین محمد "حنیف"**

**د اقتصاد وزارت چارسمبالی**

**کاپي:**

( **) محترم وزارت / ریاست ته!**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.